محمد هارون خپل شعشعی

۱۹ جولای ۲۰۱۳

د علي محمد مخلص د ژوند اجتماعي او فرهنگي حالات:

دريمه برخه

د شمالي هند د مغولي پاچهانو د ادبي او فرهنگي فعاليتو تر څنگ د دکن په پينځو خپلواکو پاچهيو(احمدنگر، بيجاپور، بيرار،گولکونده او بيدر)کې هم د پوهي، عرفان، ادب، هونر، موسيقی او معماری بازار خوار گرم ؤ. په علمي او فرهنگي بهير کې د دې پينځو سلطنتو تر ټولو ارزښتناکه ونډه د دکني/ دکهني (Dakhini /Dakkhani / Deccani) ژبې له هر اړخيزي ودي او پرمختگ سره پراخه مرسته وه، چې د بهمني سلطنت په زمانه کې تادوا اينوول سوئ ؤ. دکني ژبه له عربي، پارسي، مراټهي/ مراټي[47](Marathi)، کاناډا[48] (Kannada) او تيلوگو[49](Telugu/Telegu) ژبو څخه جوړه سوې ژبه ده، چې د بهمني پاچهی تر تجزيي وروسته د دکن د خپلواکو پاچهانو د پېرزويني له برکته و شفاهي بشپړتيا او ادبي پرمختگ ته و رسېده. دکني ژبه وروسته د شمالي هند له اوردو ژبې څخه د جلاوالي په خاطر د دکني اوردو په نامه مسما سوه. اوس د دکن د سيمي ميليونونه وگړي(په ۲۰۰۷ع کې ۴، ۱۱ ميليونه) په دې ژبه خبري او ليکني کيي. د بيجاپور د عادلشاهانو په زمانه کې په دکني ژبه خورا ډېر اثار وليکل سول. ابراهيم عادلشاه په خپله شاعر، خطاط او لوی موسيقي پوه ؤ. د « نَوْرَس » په نامه يي د موسيقی د راگونو يوکتاب وليکئ. د پارسي ژبې مشهور شاعر، نورالدين ظهوري، د عادلشاهانو د دربار ملک الشعراء ؤ. ويل کيږي په هند کې د مشاعرې جال هم واردواره په همدې بيجاپورکي شرو سوئ دئ، چې وروسته بيا سوکه سوکه د هند و شمالي خواوو ته و غزېدئ. لنده دا چې د دکن شاهي دربارونه هم د اگرې او ديلي د مغولي دربارو په شان هيڅکله له شاعرانو، مورخانو او عالمانو خالي نه وه. محمود، فېروز، فهامي، قيصري، رونقي، محمد امين، غواصي، خيالي، قبطي، ابن نشاطي، مقيمي، شوقي، نصرتي، هاشمي، اياغي، نوعي خبوشاني او ډېر نور د دکن د خپلواکو سلطنتي دربارو مشهور او نومیالي شاعران وه. محمدقاسم هندوشاه، سيدعلي طباطبايي، ملا ملک قسمي او داسي نور يي د نامتو مورخانو په ډله کي وه. د گولکونډې پاچا، ابراهيم قلي قطب شاه پر پارسي او دکني ژبو سربېره حتا د تيلوگو ژبې د ادبياتو له ودي او پرمختگ سره هم ډېره مرسته وکړه. ده نه يوازي د پوهي او فرهنگ پالنه او رزونه کوله، بلکي په خپله هم پياوړی شاعر ؤ. په دکني ژبه کې د« کليات محمد قلي قطب شاه » په نامه لوی شعري ديوان پرېښاوه.[50]

د دکن د خپلواکو پاچهانو په سپارښتنه او تشويق د پوهي او فرهنگ په بېلو بېلو برخو کي خورا ډېر اثار وليکل سول، چي دغه څو يي يوازي په تاريخ ليکنه کي د يادوني وړ دي:

- سیدعلي طباطبايي په (۱۵۹۶ع/ ۱۰۰۴ق) کي د دکن د ايالتي سلطنتو، په تېره بيا بهمني او نظام شاهي کورنييو په باره کي د « برهان مآثر » په نامه اثر وليکئ.

- « تاريخ فرشته يا گلشن ابراهيمي »د محمدقاسم هندوشاه استرآبادي تأليف دئ، چي په (۱۶۰۶- ۱۶۲۴ع/ ۱۰۱۵ق - ۱۰۳۳ق) کي د بيجاپور د پاچا، ابراهيم عادلشاه، په نامه کښل سوئ دئ؛ او د هندوستان د عمومي تاريخ، په تېره بيا د دکن د پاچهانو(بهمنيانو، عادلشاهانو، نظام شاهانو، قطبشاهانو، عمادشاهانو او بريدشاهانو)، د گجرات د شاهانو، د مالوې د واکمنانو، د خاندېش شاهانو(د برهانپور د فاروقي سلاطينو) او داسي نورو کوچنيو پاچهيو په باره کي ارزښتناک مالومات وړاندي کيي. له دې کتاب سره د صوفي شېخانو د ژوند او اثارو د پېژندني په باب هم خورا گټوره ضميمه ملگرې ده.-

« منشاآت شاه طاهر » د رسمي مکتوبو هغه مجموعه ده، چي د احمدنگر د دربار د مشاور، شاه طاهرپه قلم ليکل سوې ده.

- « تذکرة الملوک » د رفيع الدين ابراهيم شيرازي تأليف دئ، چي په (۱۶۱۱- ۱۲ع / ۱۰۲۰ق) کي د بيجاپور د تاريخ په اړه و کښل سو.

- حبيب الله د گولکونډې د سلطنت په باب خپل « قطب شاهي » تاريخ تأليف کړ.

- نورالله د بيجاپور د عادلشاهانو په اړه د « عادلشاه ثانی » په نامه تاريخ وليکل سو.

- « محمدنامه » د ظهورالدين ظهوري په قلم وليکل سوه، چي د بيجاپور د عادل شاهي سلطنت حالات بيانيي.

د دکني میناتوری او نقاشی هونر، چي د احمدنگر، بيجاپور او گولکونډې په دربارو کي و خپل عروج او کمال ته ورسېدئ، د سيمي په فرهنگي بهير کي د دغو پينځو خپلواکو سلطنتو بله ارزښتناکه او په زړه پوري بريا گڼله کيږي.« تعريف حسين شاهي »، « انوارِ سوهيلي »، « سندبدنامه »، « نجوم العلوم »، « جواهرِ موسيقات محمدي » او داسي نور د دې عصر د ميناتوري اثارو ځيني خطي مجموعي دي، چي تر اوسه د نړۍ په ځينو موزيمو او کتابتونو کي د ډېرو قيمتي اثارو په توگه ساتل کيږي.[۵۱]

د جنوبي هند په فرهنگي اعتلا او ارتقا کي د دې خپلواکو پاچهيو بله مهمه ونده هغه شانداره معماري ده، چي ځيني اثار يې تر اوسه هم پر خپل پخواني صلابت او مهابت پاته دي.« چار منار »، « گل گنبذ »، « جامي مسجد »،« مکه مسجد »، « فرح باغ »، « چيني محل »، « گگن محل »، « سات منزل »، « جل مندير»، « آنند محل »، « اثر محل » او داسي نور ټول د دې عصر له پرتمينو معمارييو څخه گڼل کيږي.[۵۲]

پر دې ټولو ادبي، علمي او فرهنگي پرمختگو سربېره د بيدر دکني سلطنت د بېلابېلو فلزاتو په گډولو سره د فلزکاری په صنعت کي هم يو خاص تخنيک اختراع کړئ ؤ، چي په ټوله سيمه کي مروج او مشهور ؤ.[۵۳]

د دکن زياترو پاچهانو تورکي- ايراني ريښي لرلي؛ ځکه يې نو په ادب، هونر، موسيقی او معماری کي هم ايرانی بڼه او جوله له ورايه ښکاره وه. د شمالي هند له سُني مذهبه پاچهانو او واکمنانو سره يې د دوستی او نيژدې والي پر ځای د ايران له صفوي پاچهانو سره نيژدې راشه درشه لرله.[۵۴] دې پاچهانو د خپلي تورکي ختي او ايرانپالني تر څنگ په ژبنيو، فرهنگي، مذهبي او فکري چارو کي د زغم او پېرزويني لوی نوم گټلئ ؤ. عادلشاهانو د نورو توکمونو، اديانو او مذاهبو پر استازو سربېره و هندوانو ته هم په خپل حکومت کي لوی منصبونه ور کړي وه. د محاسبي او اداري چاري يې زياتره د هندوانو په لاس کي وې؛ ځکه په دغو برخو کي هر څه په مراټي ژبه ليکل کېدل، چي نورو چندان مهارت نه پکښي لاره. د تصوف او طريقت په برخه کي هم د هر چا دود او دستور ته په درناوي کتل کېدل. د دکني پاچهانو دې فکري او فرهنگي ازادخيالی اوږدې ريښي لرلي؛ ځکه د دکن تر خپلواکو

پاچهییو مخکي بهمني پاچهانو هم له پارس او عراق څخه و خپل دربار ته د طریقت پیران او پیشوایان ور بلل. په دربار کي تر هندیانو د بهرنیانو یا آفاقیانو خاطر ډېر ساتل کېدئ. نعمت الهي طریقه په بیدر کي د نعمت الله ولي له خوا پیل سوه. قادریه طریقه له بغداده و بیدر ته راغله، چي وروسته په بیجاپور او گولکونده کي هم خپره سوه. د چشتیه او قادریه طریقو پیروان هم تر ابراهیم عادلشاه وروسته، په بیجاپور کي مېشت سول. د عبداله شاه د شطاري طریقت پیروان هم د هند له شمالي برخو څخه و دکن ته ور وکوچېدل؛ او په بیجاپور او برهانپور کي ځان ته جلا مرکزونه جوړ کړل. په دکن کي د گورگاني دولت تر واک غزېدو وروسته د مجددي- نقشبندي طریقت د مشر شېخ احمد سرهندي پیروانو هم و برهانپور ته مخه کړه؛ د آورنگ آباد او بیرار په خانقاوو کي د نورو صوفي پیرانو او مرشدانو له خوا نوی نقشبندي طریقت باب سو.[۵۵]

د یادوني وړ ده چي دا مهال د هندوستان د مغولي دولت او د دکن د خپلواکو پاچهییو تر څنگ د پښتونخوا په غرو او مېرو کي هم د پوهي او ادب د ودي او پرمختیا په لار کي ارزښتناک گامونه پورته سول. د روښاني غورځنگ مشرانو(پیر روښان، خلیفه مودود، ملا ارزاني او داسي نورو) د پښتو ادب په تاریخ کي ځلانده باب پرانیستئ، چي وروسته هند مېشتو روښاني شاعرانو او لیکوالو په خپلو عرفاني نظریو، ادبي او تاریخي اثارو سره د هغه ارزښت څو چنده نور هم زیات کئ؛ پښتو ادب یي له علمي، عرفاني، ادبي او تاریخي اړخه و لوړو پوړییو ته ورساوه. د روښانیانو تر څنگ ډېرو نورو پښتنو شاعرانو لیکوالو، مورخانو او عالمانو لکه اخون قاسم شینواري پاپینخېل، بي بي نېکبختي، شېخ بوستان بړېڅ، الله یار بن شېخ صالح الکوزي، ملا الف هوتک، اخون درویزه ننگرهاري، کامران خان سدوزي او ډېرو نورو هم هر یوه په خپل وار سره د پښتو ادب د دې تاریخي دورې په پرمختگ کي ارزښتناکه برخه واخیسته، چي دا بهیر وروسته د خوشال خان خټک، د هغه اولادو او نورو معاصرانو په را مخ ته کېدو سره د لوړتیا او بشپړتیا بېساري مزلونه و وهل؛ خو پښتو ادب پر دې ټول برم او پرتم سربېره هم د دې مهال له پاړسي ادب سره د پرتلي وړ نه ؤ؛ ځکه د پښتنون قام پر اوږو په ختیځ کي د مغولي او په لوېدیځ کي د صفوي امپراتورییو له ظالمانه تاړاکونو سره د مقابلي او مبارزې دروند پېټی پروت ؤ. په دواړو جبهو کي د پردو اشغالگرو پر ضد د ملي واکمنی او سیاسي خپلواکی ویاړلي معرکي او مبارزې رواني وې. د اگرې، دیلي او دکن د سلطنتي دربارو پر خلاف و پښتنو شاعرانو، مورخانو او پوهانو ته د هغو د علمي او ادبي اثارو په بدل کي انعامونه او خلعتونه نه ورکول کېدل. پښتنو ته د استعماري یرغلگرو د جنگ او نارامی، درنو مالیو او شنه زور په غملړلو شرایطو کي د پوهي او فرهنگ د ډېوو روښانه ساتل څه اسانه خبره نه وه.

د علي محمد مخلص د هلکیني ځوانی او پخښت کلونه د نورالدین سلیم جهانگیر او شهاب الدین محمد شاه جهان د پاچهییو په زمانو کي تېر سول. د محی الدین اورنگزېب عالمگیر د پاچهی په توره او مختنقه دوره کي د ژوند وروستي کلونه تېرول. بي اورنگزېبه چي له سیاسي، مذهبي او فکري ازادئ سره یي سخته دوښمني پاللـه، نورو گورگاني پاچهانو- له ظهیرالدین محمد بابر او همایون څخه تر اکبر، جهانگیر او شاه جهانه پوري- هر یوه په بېلو بېلو درجو د اشغالگرئ او وینو تویولو تر څنگ له پوهي، ادب، هونر او ترقی سره هم مینه لرله. همدا وجه وه، چي د مغولي پاچهانو، په تېره بیا اکبر، جهانگیر او شاه جهان په پاچهییو کي پر اسلامي تصوف او عرفان سربېره په تاریخ، ادب، موسیقی، معمارئ، نقاشی، خطاطی او داسي نورو فرهنگي برخو کي په زړه پوري پرمختگونه راغلل. لکه څنگه چي یادونه و سوه د پوهي، ادب، هونر او اسلامي عرفان په مختلفو برخو کي دا پرمختگونه یوازي د هندوستان د گورگاني دولت په جغرافیایي حدودو کي محدود نه وه، بلکي د دکن په بهمني سلطنت او د هغه تر وېشل کېدو وروسته په را منځ ته سوو پینځو خپلواکو پاچهییو، د برهانپور د فاروقي سلاطینو په دربار او نورو کوچنییو سلطنتو او نوابییو کي هم همېشه د پوهي، ادب، هونر او نورو فرهنگي ارزښتو و ودي او پرمختگ ته ډېر پام کېدئ. په دکن

کي د بېلابېلو نژادي، ديني، مذهبي، ژبنيو او فکري ډلو سوله ييز ګډ ژوند د داسي ګڼ توکمه يا کثيرالملتي دود او دستور له جوړېدو او تکامل سره مرسته وکړه، چي په تاريخ کي د« دکني تهذيب » په نامه ياديږي. د اګرې، ديلي او دکن په علمي، ادبي او فرهنګي مرکزو کي د نورو علمي او ادبي مخکښانو تر څنګ پښتنو شاعرانو، ليکوالو، مورخانو او پوهانو هم ارزښتناکه ونډه لرله. په هندوستان کي د پښتون اولس او پښتنو پاچهانو سياسي، اجتماعي او فرهنګي حالات زياتره د دغو پښتنو ليکوالو او څېړونکو په اثارو کي بيان سوي دي. البته د لودي پاچهانو په ګډون په دې ټولو دورو کي د واکمنو دربارو او علمي- فرهنګي ټولنو مروجه ژبه پاړسي يا عربي وه؛ ځکه نو پښتنو ليکوالو هم د خپلو اثارو ډېره برخه په دغو ژبو ليکله.

لکه څنګه چي « حالنامه » ښيي، زموږ عارف شاعر، علي محمد مخلص، هم له الله داد(رشيد خان) او ځينو روښاني ملګرو سره د دکن په بېلابېلو سيمو کي اوږده وختونه تېر کړي دي. ښيله شکه د دکن د دې مهال علمي، ادبي او فرهنګي بهيرو د علي محمد مخلص او نورو روښاني سياسيونو، شاعرانو او ليکوالو پر ادبي، عرفاني او فرهنګي هڅو ژوره اغېزه ښندله. مخلص په « حالنامه »کي د رشيد خان د هغو نادرو او نايابو کتابو يادونه کيي، چي تر مړيني وروسته يې د اورنګزيب د کشر ورور، شازاده مرادبخش، په لاس کښېوتل. مخلص، د روښاني غورځنګ د معرکو او حماسو د ساتني او ستايني په خاطر د رشيد خان له خوا د هغي شاهنامي ليکلو ذکر هم کيي، چي په هغه زمانه کي، اووه زره پينځه سوه(۷۵۰۰) روپۍ پر خرڅي کړي وې.[۵۶]« حالنامه » هم دا وايي، چي د رشيد خان ورور، هاديداد خان، په حقيقت پوهنه کي بېساری شخص ؤ. « مثنوي معنوي » يې ښه لوستله؛ او مانا يې په ښو ډوله بيانوله؛ د حقايقو په اړه يې ډېر کتابونه او کتابګوتي سره غونډ کړي وه... مخلص، وروسته دا هم کاږي، چي هاديداد خان د موسيقۍ په عِلم کي هم بشپړ لاس لاره؛ او په هندي ژبه يې شعر هم وايه- داسي شعر چي هر پوه او باصلاحيته اروېدونکي به آفرين پر وايه؛ او تعجب بې کاوه چي د پښتنو په منځ کي لوی سوئ سړی څنګه په داسي استادئ ماناوي او الفاظ اوډلای سي[۵۷]... د ميرزا خان انصاري ژوري عرفاني- فلسفي شاعرۍ ته خو پر نورو پښتنو شاعرانو سربېره د خوشال خان خټک او اشرف خان هجري په کلام کي هم په خورا درنه سترګه کتل سوي دي. خوشال خان خټک وايي:

په خبره يو مِرزا دئ

په هر حال کي څه اشنا دئ

ګڼه نور پښتانه خوار دي

چه په لافو د اشعار دي

اشرف خان هجري خو يې په پښتو شاعري کي له تاج او افسر سره تشبيه کيي:

د مِرزا شعر شمله بلکه افسر دئ

علي محمد مخلص په دغه راز علمي او فرهنګي چاپېر کي شپې او ورځي تېرولې. هري خوا تې د علم، ادب او عرفان ډېوې بلي وې. د عِلم پروری او ازادخيالۍ دې مساعدي فضا له هغه څخه په پای کي د قرآن او احاديثو پياوړی عالِم، متفکر عارف او د پښتو او پاړسي ژبو لوړ مقامه شاعر جوړ کئ.

په هندوستان کي د فکري او فرهنګي سمسورتيا دغه راز ځلانده بهير نه يوازي په رشيد آباد، فرخ آباد، عليګړ او داسي نورو پښتون مېشتو سيمو کي د پښتنو پر فکري او فرهنګي ويښتابه لوی اثر ښانده، بلکي په درسته پښتونخوا کي د علمي او فرهنګي هڅو له پراخولو او پياوړي کولو سره په زړه پوري مرسته کوله.

همدا وجه ده چي د دکن علمي او ادبي تهذيب له همغه پخوا زمانو څخه تر اوسه په خورا شان او شوکت جاري دئ. د ډېر وياړ او خوشالۍ ځای دئ، چي پښتنو پوهانو او عالمانو د هر بل وخت په څېر د دکن د علمي او

فرهنگي نامه د معاصري دورې په څلولو کي هم ارزښتناکه برخه اخيستي ده.« جامعه نظاميه » چي د هندوستان د الازهر حيثيت لري، په (۱۸۷۶ع) کال کي د يوه نامتو کنداري عالِم، مولانا انوارالله فاروقي، له خوا په حيدر آباد دکن کي جوړه سوه. وروسته پر نوميالييو کنداري عالمانو سربېره د نورو پښتنو سيمو فاضلو عالمانو هم د مدرسې په علمي او تدريسي چارو کي لو برخه واخيسته. دا علمي ټولنه چي اوس د ماسترۍ په سويه شاګردان روزي، په حقيقت کي د پښتنو، په تېره بيا کنداري عالمانو د علمي کوښښو او محنتو نتيجه ده. د کندهار جيد قاري، مفسر، محدث، فقيه، عالِم، اديب او شاعر- په مولوي ابولوفاء افغاني مشهور، محمود شاه بن مبارک شاه قادري (۱۳۱۰ق/ ۱۸۹۳ع - ۱۳۹۵ق/ ۱۹۷۵ع) هم څه موده د دې علمي مرکز د مشرتوب چاري پرمخ بېولې. د افغانستان او هندوستان په علمي ټولنو کي دې پېژندل سوي او منلي عالِم په ۱۳۴۸ق کال په همدې حيدر آباد دکن کي د« احياى معارف نعمانيه » په نامه يوه علمي- تحقيقي ټولنه جوړ کړه، چي د حنفي فقهي د لرغونو اثارو و برابرولو، سمولو او خپرولو ته وقف سوې وه.[۵۸]

په دکن کي مېشتو پښتنو عالمانو، مفسرانو، محدثانو او ليکوالو له خپلو پلرنييو مېنو څخه زرونه ميله ليري د بشري او اسلامي ثقافت د ودي او ترقۍ په هيله بې شماره اثار وليکل او خپل تاريخي ټاټوبي، ګران افغانستان، ته نه هېرېدونکي وياړونه وګټل. دا چي زموږ علمي او فرهنګي مخکښانو ولي له خپل پلرني هيواد څخه ليري په توركيه، هندوستان يا نورو پردو خاورو کي د پوهي او عرفان ډېوې روښانولې، جواب ښېخي روښانه دئ. د استعمارګرو دولتو ظالمانه تاړاکونه، د خپلو واکمنانو استبدادي رژيمونه او فرهنګي ضد سياستونه ټول هغه څه وه، چي د دې تاريخي مېني د پوهي، ادب او تفكر نوميالي يې د خپل خواږه وطن و پرېښوولو ته اړ ايستل. زما په نظر: څوک په رضا له ملکه نه ځي--- يا ډېر غريب سي يا يې مخ ته خطرونه. په ډېري خواشينۍ سره دا دردناک او غملړلی حالت تر اوسه هم جاري دئ. څلور دېرش کاله کيږي، چي د افغانانو په تاريخي خاوره کي د پردو او خپلو له ظلمه د وينو والي بهيږي؛ پر ټول ملک يې د ناپوهی، کرکي او دوښمنۍ تور پلو غوړېدلئ دئ؛ ميليونونه بچيان يې د سر ساتني، ډوډۍ موندني يا نورو دلايلو له مخي د نړۍ و ښلو ښلو هيوادو ته تښتي؛ او د هري ورځي په تېرېدو سره له خپلي ژبي، کلتور او نورو ملي وياړونو پردي کيږي. په دې دردناک حالت کي ځيني ځيني و داسي مقام او منزلت هم رسېدلي او رسيږي، چي ټول بشريت يې په کارنامو فخر کيې!

ماخذونه او يادښتونه

[۴۷] مراټهي/ مراټي د اوسني هندوستان د مهاراشترا ايالت رسمي ژبه ده، چي په ځينو نورو نيژدې ايالتو کي هم ويونکي لري. دا ژبه په هندوستان کي د اصلي ويونکو د شمار له مخي څلرمه لو ژبه ده. تر (۲۰۰۱ع) پوري يې ويونکي درو اويا (۷۳) ميليونو ته رسېدل. نور مالومات په دې ويبپانه کي وګورئ: http://en.wikipedia.org/wiki/Marathi_language

[۴۸] کانډا د اوسني هندوستان د کرناټکه ايالت رسمي ژبه ده. په شاوخوا نورو ايالتو کي هم ويله کيږي. تر (۲۰۰۷ع) پوري يې د اصلي ويونکو شمېر اته دېرشو(۳۸) ميليونو ته رسيږئ. د نور تفصيل دپاره وګورئ: http://en.wikipedia.org/wiki/Kannada_language

[۴۹] تيلوګو د اوسني هندوستان د اندراپردېش ايالت رسمي ژبه ده. په ځينو نورو ايالتو کي هم څه ويونکي لري. تر (۲۰۰۷ع) کال پوري شپږ اويا (۷۶) ميليونو اصلي ويونکو په دې ژبه خبري کولې. په ټول هندوستان کي د خلګو د شمار په حساب دريمه لو ژبه ده. د زياتو مالوماتو دپاره وګورئ: https://en.wikipedia.org/wiki/Telugu_language

[50] http://en.wikipedia.org/wiki/Deccan_sultanates

[51] http://en.wikipedia.org/wiki/Deccan_sultanates

[52] http://en.wikipedia.org/wiki/Deccan_sultanates

[53] Marika Sardar, Institute of Fine Arts, New York University: Islamic Art of the Deccan: http://www.metmuseum.org/toah/hd/decc/hd_decc.htm

[54] Marika Sardar, Institute of Fine Arts, New York University: Islamic Art of the Deccan: http://www.metmuseum.org/toah/hd/decc/hd_decc.htm

[55] http://www.iranicaonline.org/articles/deccan: POLITICAL AND LITERARY HISTORY

[۵۶] مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان، نقل از سرمحقق دوست شینواری و معاون سر محقق نورالله اولسپال (کابل: پښتو ټولنه، مرکز زبانها و ادبیات، اکادیمی علوم افغانستان، ۱۳۶۴) ۶۸۰ - ۸۱. (چاپ گستنتری)

[۵۷] مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان ۷۰۷.

[۵۸] حبیبی، « وفات حضرت استاد مولوی ابولوفای افغانی،» ادب ۱ (۱۳۵۵):۷۱ - ۷۶.

یادونه: په دې مقاله کې د زیاترو اشخاصو، اثارو او اماکنو نومونه له انګرېزي متنو څخه اخیستل سوي دي؛ ځکه نو په یو و نیم کې د ځینو خطاوو تېرېدل، له امکانه لیري نه دي. له درنو څېړونکو څخه په درناوي هیله کیږي، چي هر څه ته په انتقادي نظر وګوري؛ او د تېروتنو په سمولو سره د ګران هیواد په علمي او فرهنګي بهیر کي ارزښتناکه برخه واخلي.